مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت

۲۰۲۱/۱۲/۱۵

# لوبې وشوې

پر سرونو او پر زړونو لوبې وشوې
د هیواد پر ارزښتونو لوبې وشوې

د نړۍ پر مخ یې ساري لیدل ګران دي
چې پر موږه د غمونو لوبې وشوې

د نظر مزې یې هسک ته رسیدل به
هم د هغو پر خیالونو لوبې وشوې

غلیم داسې جال کړ خپور په کې ښکیل کړو
ننګالیو پر هوډونو لوبې وشوې

جنتي وطن یې ټول راته خوړلن کړ
لا پر موږه د اورونو لوبې وشوې

سترو موخو ته یې خپل ژوند نظرانه کړ
څه په ځوانو امیدونو لوبې وشوې

د دې خاورې سره لعلونه یې لیدل چې
د هغوي پر باورونو لوبې وشوې

پرسپیره دښته یې شین چمن زرغون کړ
پر دا سترو نوښتونو لوبې وشوې

د ژوند نوي بدلون هڅو هاند ته ژمن وو
د هغوي پر ارمانونو لوبې وشوې

د وطن مینه کړلیچ لړي پرې دروموو
د مجنون پر پرهرونو لوبې وشوې

پیغلو اوښکې د دیوو ځل ته کړې تلې
د مین پر شوګیرونو لوبې وشوې

زلمو وویل:چې زموږ مینه کې ځواک شته
خیر که اوس د ناتارونو لوبې وشوې

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ